**د افغـــــانستان اســــلامي امــــارت**

**د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان**

**چې د هيواد دمرکز او ولايا ټولو خطيبانو ته**

**په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۵/ ذوالحجة/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۱/ جوزا /۱۴۰۴هـ، ش**

# د اُضحيې(قربانۍ) د واجب والي او صحت شرطونه او د قربانۍ د احکامو بيان

الحمد لله الذي شرع لعباده الأحكام، وجعل الأضاحي منسكًا لأهل الإسلام، والصلاة والسلام على سيدنا محمد خير الأنام، وعلى آله وصحبه الكرام، أمابعد :قال الله سبحانه وتعالى: (فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ) الكوثر :(۲)

**درنو حاضرينو !**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

نن د ذوالحجې مياشت پنځم تاريخ دی او قربانۍ ته په شمير ورځې پاتې دي . زمونږ هيوادوال چې قربانۍ کول وربانديې واجب وي کوښښ کوي چې د قربانۍ لپاره څاروي واخلي .

بناءً مونږ نن ورځ د تقرير او بيان موضوع د (أضحيې (قربانۍ) د واجبوالي او صحت شرطونو ته ځانګړې کړې ده ، ځکه دا خبره ضرور ده ، چې مسلمان او خصوصاً نوي ځوانان په دې پوهه شي چې په چا باندې قرباني کول واجب ده؟ او په دې هم پوهه شي چې په کومو څارويو باندې قرباني کيږي او په کومو څارويو قرباني نه کيږي.

**الف: د اُضحيې (قربانۍ) د واجب والي شرطونه:**

أضحيه (قربانۍ) د هغه مخصوص څاروي نوم دی چې د اختر په ورځ الله تعالی ته د تقرُّب په نيت ذبح کيږي.

أضحيه (قرباني) په هغه چا واجب ده چې لاندې شرطونه ولري:

**۱-د اُضحيې (قربانۍ) دوجوب لپاره د اسلام شرط.** قرباني يو شرعي مکلفيت دی او د قربانۍ لپاره اسلام شرط دی او په کافر باندې قرباني واجب نه ده، ځکه چې قرباني عبادت دی او کافر د عبادت اهل نه دی.

**۲- د نصاب درلودلو شرط:** أضحيې (قربانۍ) د واجب والي لپاره دا شرط ده چې مسلمان به د اختر په ورځو کې نصاب ولري. قرباني کول په هغه چا باندې واجب ده، چې دلوی اختر په ورځ د زکات د فرضيت په اندازه نصاب ولري د قربانۍ نصاب هغه د زکات د وجوب نصاب دی چې د اختر په ورځ (۸۷،۴۷۹) ګرامه طلا ولري يا (۶۱۲،۳۵) ګرامه سپين زر ولري.

د قربانۍ د وجوب لپاره دا شرط نه ده چې په نصاب دې کال اوړيدلی وي. که چيرې د چا سره مخکې پيسې نه وې او د اختر په ورځ د زکات د نصاب په اندازه پيسې لاس ته ورغلی،نو قرباني کول وربانديې واجب شو. څوک چې د اختر په ورځ د زکات د فرضيت په اندازه نصاب ونلري په هغه باندې قرباني کول واجب نه ده.

د قربانۍ د وجوب په اړه الله تعالی فرمايلي دي: (فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ) الكوثر :(۲) ترجمه:نو لمونځ کوه لپاره د رب خپل او قرباني کوه.

په پورتني مبارک آیت کې الله جل جلاله قرباني کول د لمانځه سره پیوسته ذکر کړی ده ، او د قربانۍ په کولو یې امر کړی دی او امر د وجوب لپاره وي.

همدا راز په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا» مسند أحمد (١٤/ ٢٤) وصححه الذهبي فى تعليق المستدرك (٤/ ٢٥٨)

ژباړه: د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د چا سره چې توان د قربانۍ کولو وي او قرباني یې ونه کړه، نو زمونږ عیدگاه ته دې نه نږدې کیږي.

په دې حدیث کې د قربانۍ د نه کولو په اړه سخت وعید راغلی دی چې د قربانۍ په وجوب دلالت کوي. الاختيار لتعليل المختار (٥/ ١٩)

**٣- مقیموالی** : د قربانۍ د واجب والي بل شرط دادی، چې په هغه چا قرباني کول واجب دي چې مقیم وي او مسافر نه وي. په مسافر باندې قرباني کول واجب نه ده.

د اعلاء السنن مؤلف علامه تهانوي رجمه الله لیکلي دي: د قربانۍ په واجب والي کې اقامت شرط دی ځکه چې مسافر شریعت د زکات له مستحقینو څخه گرځولی دی ، ولو که په وطن کې غني وي  او په سفر کېورباندې مالي عبادات واجب نه دي لکه قربانۍ کول. إعلاء السنن ١٧/ ٢٣٥

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه نقل دي چې هغه به حج کولو او قرباني به یې نه کوله. المصنف لعبدالرزاق( ٤/ ٣٨٢)

همدا راز په یو روایت کې راځي چې صحابه کرامو به حج کولو او د هغوی سره به د سرو زرو روپۍ موجودې وې ،خو هغوی به قربانۍ نکوله .

امام نخعی رحمه الله فرمایي: حاجي او مسافر ته  د قربانۍ نه کولو په برخه کې رخصت ورکړل شوی دی. المصنف، لعبدالرزاق( ٤/ ٣٨٢).

البته که چیرې څوک په حج کې قرباني وکړي ، نو کوم کراهیت په کې نشته.

د قربانۍ موخه یوازې دپسونو او څارویو ذبح کول نه ده؛ بلکې موخه یې د افکارو او زړونو په قربانیو او فداکاریو باندې روزنه او پالنه ده. الله جل جلاله دابراهیم علیه السلام ازموینه او د اسماعیل علیه السلام فداکاري په لاندې ډول یادوي:

(فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ* فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ* وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ* قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ* إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ* وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ* وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ).[ الصافات:١٠٨]

ترجمه: نو کله چې (اسماعیل علیه السلام) له ده( ابراهیم علیه السلام) سره منډې وهلو ته ورسیده وه یې ویل: ای زما خوږه زویه! بیشکه زه په خوب کې وینم داسې چې بیشکه زه تا ذبح کوم، نو ته وگوره چې ستا څه رایه ده؟ هغه (اسماعیل علیه السلام) وویل: ای زما پلار جانه! ته هغه کار وکړه چې تاته یې امر کول شي، ژر ده چې که الله وغواړي، ته به ما له صبر کوونکو وموميې، نو کله چې دواړو غاړه کیښنوده او هغه یې(اسماعیل علیه السلام) په اړخ څملاوه او مونږ ده ته آواز وکړ، داسې چې ای ابراهیمه ! یقیناً تا خوب رښتیا کړ، بیشکه مونږ نیکي کوونکو ته همداسې بدله ورکوو، بیشکه دا، یقیناً همدغه ښکاره ازمیښت ؤ او مونږ ده(اسماعیل علیه السلام) ته په ډیرې لویې ذبیحې سره خلاصی ورکړو او مونږ باقي پریښود ده لره(یادونه دده) په وروستنیو خلکو کې.

الله جل جلاله د ابراهيم علیه السلام د قرباني سُنت لکه چې فرمايي(وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ) د تل لپاره د مسلمانانو لپاره روښانه لار وگرځوله او دا ابراهيمي سُنت د هغه په نسل کې ژوندي پاتي شول، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي : (وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ....) الحج : ۳۴

ترجمه:د هر امت لپاره مونږ د قرباني يوه کړنلاره ټاکلی ده؛ ترڅو چې (د هرامت) وگړي په هغو څارويو باندې دالله تعالی نوم ياد کړي چې هغوی ته د روزۍ لپاره ورکړ شوي دي.

امام ابن كثير ددې آيت په تفسير کې وايي: الله تعالی مونږ ته ددې خبرې يادونه کوي چې د قربانيو ذبح کول او د قربانيو د وينو تويول په ټولو امتونو کې مشروع عمل ؤ.(ابن كثير)

په قرباني کې اخلاص ډير مهم دی، لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلاَ دِمَاؤُهَا وَلَكِن يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنكُمْ كَذَلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ)[ الحج: ٣٦-٣٧]

ترجمه: نه دهغو (څارويو) غوښې الله ته رسيږي او نه يې وينې، مگر هغه ته ستاسې تقوی رسيږي، هغه ستاسې لپاره څاروي تابع کړي دي، ترڅو چې تاسې په هغه طريقه چې تاسو ته يې لا ښوونه کړی ده د الله تعالی لويي ياده کړئ. او ای پيغمبره نيکو کارانو ته زيری ورکړه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم به قرباني کوله .په يو حديث شريف کې راځي: عن أنس رضي الله عنه قال:( ضَحَّى النَّبِي صلى الله عليه وسلم بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيدِهِ وَسَمَّي وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ على صِفَاحِهِمَا) . متفق عليه

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روايت دی؛ هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم دوه نر چاغ او ښکرور پسونه قرباني کړل، دواړه يې په خپل لاس حلال کړل، بسم الله او تکبير يې پرې وويل او د ذبحې پر مهال يې خپله پښه د هغو دغاړې پر اړخ کيښوده.

## ب:د قرباني دصحت شرطونه:

د أُضحيې او قرباني د صحت لپاره د لاندې شرطونو شتون حتمی دی:

**لومړی شرط:** د قرباني څار وی به د وزو،(بزو) ، گډانو يا گډو، غواگانو، اوښانو او ميښو له جنس څخه وي. خو په گډ باندې قرباني کول فضيلت لري.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ)الحج:(٢٨)

ترجمه:او چې ياد کړي نوم د الله په هغو څو ورځو (د لوی اختر) کې چې معلومې دي په (ذبح د) هر هغه حيوان چې ورکړی دی الله دوی ته له بې ژبو چارپايانو څخه.

په غوا ، غويي، ميښه ، سنډا د اوو (٧) کسانو شريکيدل جائز دي، خو د اوو څخه د زياتو کسانو اشتراک جواز نلري. په حديث شريف کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ:« نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ». صحيح مسلم (٤/ ٨٧)

ژباړه: د حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې مونږ ذبح کړل د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د حُديبيې په کال کې اوښ يا اوښه د اوو کسانو له طرفه او غوا هم د اوو کسانو له طرفه.

يعنې د اوښ په ذبح کولو کې اووه کسان شريک شوي ؤ او په غوا په ذبح کولو کې اووه کسان شريک شوي ؤ.

**۲-د قرباني په څاروي کې د عمر پوره والی شرط دی**. په غواګانو، میښو، دا شرط ده چې هغه به دوه کلن وي او په اوښانو کې دا شرط ده چې اوښ به پنځه کلن وي او په وزو او ګډو کې دا شرط ده چې یو کلن به وي. البته په هغه ګډ باندې قرباني کیږي چې دعمر شپږ میاشتې یې پوره کړی وي او دجسامت له لحاظه داسې ښکاري لکه یو کلن ګډ.په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي: « لاَ تَذْبَحُوا إِلاَّ مُسِنَّةً إِلاَّ أَنْ يَعْسُرَ عَلَيْكُمْ فَتَذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ ». سنن أبی داود-ن (۳/ ۵۲)

ژباړه: مه ذبح کوئ، مګر یوه کلن پسه ، خو که چیرې د یو کلن ذبح کول درته سخت وي (یعنې نه پیدا کیږي او یایې قیمت ډیر لوړ وي) نو بیا ذبح کړئ شپږ میاشتنی له پسانو څخه.

په البحر الرائق کې راځي: (وَالْجَذَعُ من الضَّأْنِ ) وَالْجَذَعُ من الضَّأْنِ ما تَمَّتْ له سِتَّةُ أَشْهُرٍ عِنْدَ الْفُقَهَاء. البحر الرائق (۸ /۲۰۲)

ژباړه: او جذعه له ګډانو هغه دي، چې شپږ میاشتې یې پوره شوي وي د فقهاء په نزد باندې.

**۳- د قرباني لپاره د وخت شرط والی: د** قرباني لپاره مخصوص وخت شرط دی چې هغه د لوی اختر درې ورځې دي.

که چیرې څوک د اختر په ورځو او شپو کې قرباني ونکړي، نو قرباني یې صحت نلري. د قرباني وخت د ذوالحجې د لسم تاریخ د صبح صادق له ختلو شروع کیږي او آخري وخت یې د ذوالحجې ددولسم تاریخ د لمر پریوتل دي.

امام کاساني رحمه الله لیکلي دي:(وَأَمَّا وَقْتُ الْوُجُوبِ فَأَيَّامُ النَّحْرِ فَلَا تَجِبُ قبل دُخُولِ الْوَقْتِ لِأَنَّ الْوَاجِبَاتِ الموقتة لَا تَجِبُ قبل أَوْقَاتِهَا كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَنَحْوِهِمَا وَأَيَّامُ النَّحْرِ ثَلَاثَةٌ يَوْمُ الْأَضْحَى وهو الْيَوْمُ الْعَاشِرُ من ذِي الْحِجَّةِ وَالْحَادِيَ عَشَرَ وَالثَّانِيَ عَشَرَ وَذَلِكَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ من الْيَوْمِ الْأَوَّلِ إلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ من الثَّانِي عَشَرَ). بدائع الصنائع (۵/ ۶۵)

او هرچې د قرباني د وجوب وخت دی، نو هغه د اختر ورځې دي ، نو نه واجبیږي قرباني مخکې د وخت دداخلیدو څخه، ځکه وخت پورې تړلي واجبات نه واجبیږي مخکې له خپل وخت څخه ، لکه لمونځ او روژه او داسې نور. او دقرباني ورځې درې دي ، د اختر ورځې د ذوالحجې لسمه ورځ ده، د ذوالحجې یوولسمه ورځ ده او د ذوالحجې دولسمه ورځ ده او دا وخت شروع کیږي د اختر د لومړی ورځې د فجر صادق له ختلو د ذوالحجې د دولسم تاریخ د لمر پریوتو پورې.

د پورتني عبارت څخه معلومیږي چې که څوک د ذوالحجې د دولسمې ورځې د لمر پریوتو څخه وروسته قرباني وکړي ، دغه قرباني نه حسابیږي.

البته دا ضروري ده، چې د ښاریانو لپاره دا شرط ده چې قرباني به د اختر د لمانځه څخه وروسته کوي او هغه باندې چیان ، چې هلته د اختر لمونځ نه کیږي ، هغوی کولای شي چې د اختر د لمانځه څخه مخکې قرباني وکړي.

څوک چې د اختر د لمانځه څخه مخکې قرباني وکړي ، قرباني یې صحیح نه ده . په حدیث شریف کې راځي:عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ بِهِ فِي يَوْمِنَا هَذَا نُصَلِّى ثُمَّ نَرْجِعُ فَنَنْحَرُ فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا وَمَنْ ذَبَحَ فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ قَدَّمَهُ لأَهْلِهِ لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَىْءٍ ».صحیح مسلم (۶/ ۷۵)

ژباړه: د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه لومړی هغه کار چې مونږ ورباندې پیل کوو نن ورځ ، هغه لمونځ کول دي، بیا به وګرځو او ذبح به وکړو (د قرباني څاروي به ذبح کړو) ، چاچې دا ترتیب عملي کړ ، نو هغه زمونږ لارې ته ورسیده او چاچې ذبح وکړه (د لمانځه څخه مخکې) ، نو بیشکه هغه غوښه ده چې خپلې کورنۍ ته یې وړاندې کړله او نه ده د قرباني د عبادت څخه په هیڅ ډول.

د اختر په ورځو کې د شپې له خوا قرباني کول مکروه تنزیهي دي.

**۴- د قربانۍ څلورم شرط د قربانۍ د څاروي د عیبونو او مرضونو څخه روغوالی دی:** د قربانۍ په څاروي کې دا شرط ده چې هغه به له عیبونو او مرضونو څخه پاک وي.

د هغو عیبجنو څارویو تفصیل چې قربانی وربانديې نه کیږي په لاندې ډول دي:

۱-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې کوډوالی یې واضح وي او د ذبحې ځای ته نشي تللای. البحر الرائق (۸ /۲۰۱)

۲-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې ړوند وي او ړوندوالی یې واضحه وي .

۳- بل په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې ښنه یې ماته شوي وي او د خوراوالي له امله یې په هډوکو کې ماغزه نه وي.

په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي: « أَرْبَعٌ لاَ تَجُوزُ فِي الأَضَاحِي الْعَوْرَاءُ بَيِّنٌ عَوَرُهَا وَالْمَرِيضَةُ بَيِّنٌ مَرَضُهَا وَالْعَرْجَاءُ بَيِّنٌ ظَلْعُهَا وَالْكَسِيرُ الَّتِى لاَ تَنْقَى » سنن أبى داود-ن (۳/ ٥٤)

ژباړه: څلور قسمه څاروي دي چې په قربانۍ کې یې ذبح کول جواز نلري، لومړی هغه ړوند څاروی چې ړوندوالی یې واضحه وي او بل هغه مریض حیوان چې مرض یې ښکاره وي بل هغه څاروی چې ګوډ وي او ګودوالی یې واضح وي او بل هغه څاروی چې ښنه یې ماته شوي وي او هیڅ ماغزه ونلري.

۴-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې غوږ یې قطع او پرې کړل شوی وي او یایې لکۍ قطع شوی وي او یا یې کناتۍ قطع شوی وي.

۵-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې خوار والی یې واضح وي او کمزوری وي.

٦-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې غاښونه ونه لري او خوراك نشي کولای . که چیرې خوراک یې کولای شو بیا قرباني وربانديې کیږي او دا صحیح قول دی. البحر الرائق (۸ /۲۰۱)

۷- په هغه څاروي قرباني نه کیږي؛ چې مرداريې یې خوراک وي. البحر الرائق (۸ /۲۰۱)

۸-په هغه څاروي قرباني نه کیږي، چې غولانزه یې قطع (پرې) شوي وي او بچې ته شیدی نه شي ورکولی او په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې غولانزه یې مکمل وچه شوی وي.[التبیین]

۹-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې پوزه یې قطع (پرې) شوی وي.(وَلَا مَقْطُوعَةِ الْأَنْفِ وَالذَّنَبِ)البحر الرائق (۸/ ۲۰۱)

ژباړه: او (جائز نه ده قرباني) په هغه حیوان چې پزه یې قطع شوي وي او یایې لکۍ قطع شوي وي.

۱۰-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې په دواړ سترګو ړوند وي او یا یې یوه سترګه ړنده وي او یایې اکثره سترګه ړنده وي یا له منځه تللی وي.مجمع الأنهر (٤ /۱۷۱)

په حدیث شریف کې راځي ، نبي علیه السلام فرمایلي دی:« استشرفوا العین والأذن» المعجم الأوسط (۹/ ۱٦۱)

ژباړه: ولټوئ سترګه او غوږونه (چې په سترګو ړوند څاروی نه وي او یا یې غوږونه قطع شوي وي).

**په لاندې ځارویو قرباني کیږي :**

۱-په هغه ځاروي قرباني کیږي چې پیدایشي ښکر ونه لري او یایې دښکر کمه اندازه ماته شوی وي . خو که چیرې ښکر یې له بیخه مات شوی ؤ او مغزو ته رسیدلی ؤ، نو بیا ور بانې قرباني نه کیږي.(فإن بلغ الكسر إلى المخ لم يجز) رد المحتار (۲٦/ ۲٤۸)

ژباړه: که چیرې (د ښکر) ماتوالی مغز ته رسیدلی ؤ ، نو بیا وربانديې قرباني نه کیږي.

۲-په هغه ځاروي قرباني کیږي چې خصي وي.

۳- په هغه ځاروي قرباني کیږي چې لیونی وي او خوراک کولای شي که چیرې خوراک یې نه شوکولای بیا قرباني وربانديې نه کیږي. (والثولاء وهي المجنونة إذا لم يمنعها من السوم والرعي) مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (٤/ ۱۷۱)

ژباړه: په ثولاء قرباني کیږي . او ثولاء هغه لیوني ځاروي ته ویل کیږي چې خوراک او څریدل کولای شي.

۴-په هغه ځاروي قرباني کیږي چې پیدایشي یې غوږونه واړه وي او یایې پیدایشي لکۍ وړه وي. الجوهرة النيرة (٥ /۲۹٦)

٥-په هغه ځاوري قرباني کیږي چې په سترګو کې کوږوالی ولري، یا یې په اوږدو غوږونه څیري شوی وي ، یایې په غوږونو کې سوري وي او یایې ویښته اخیستل شوي وي. رد المحتار (۲٦ /۲٥۳)، بدائع الصنائع (٥ /۷٦)

**د قربانۍ مستحبات:**

۱-دقربانۍ غوښې خوراک، ذخیره کول او صدقه کول.

۲-مستحب داده چې دقربانۍ دغوښې صدقه د دریمې برخې څخه کمه نه وي.

۳-که چیرې دقربانۍ څښتن ذبح زده وه، مستحب ده چې دقربانۍ ځاروی په خپل لاس ذبح کړي.

۴-که چیرې دقربانۍ د څښتن ذبح کول زده نه وي، مستحب ده چې دقربانۍ ځای کې حاضر وي.

٥-څوک چې د قربانۍ کولو اراده لري او د ذوالحجې میاشت داخله شوه ، سنت طریقه داده چې خپل ویښته او نوکان دې نه کموي. په حدیث شریف کې راځي: عن أُمِّ سَلَمَةَ عَنْ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَال : إِذَا دَخَل الْعَشْرُ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلاَ يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ ، وَلاَ مِنْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا حَتَّى يُضَحِّيَ . الموسوعة الفقهية الكويتية (٥/ ۱۷۰)

ژباړه: د ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقلوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: کله چې د (ذوالحجې) لس ورځې داخلې شي او ستاسو څخه یو کس وغواړي چې قرباني وکړي، نو نه دې اخلي د خپلو ویښتانو او نه دې اخلي د نوکانو څخه تر هغې پورې چې قرباني وکړي.

## د قرباني د څاروي اړونده آداب:

۱-د قرباني د څاروي قدر کول او عزت کول واجب دي؛ بناءً د قرباني په څاروي پرته له ضرورته سپریدل مکروه دي؛ ځکه په دې کې د قرباني د څاروي اهانت دی. الاختيار لتعليل المختار (۱ /۱۸)

۲-د قرباني څاروی لوشل او هغه څښل مکروه دي ؛ ځکه چې شیدي د څاروي جز دی او کوښښ دې وشي چې غولانځه یې په یخو اوبو وونیځل شي چې شیدې یې غائبې شي.خو که چیرې داختر ورځې زیاتې وې او نه لوشل ورته ضرر رسولو؛نو ودې لوشل شي او شیدې دې صدقه کړل شي.

۳-که چیرې د قرباني څاروی لنگه شوه، نو یا دې د هغې بچی هم ذبح کړل شي او یا دې صدقه کړل شي.

امام موصلی رحمه الله لیکلي دي: وإن اشترى هديا فولد عنده ذبح الولد معه ، وإن شاء تصدق به ، لأن للولد حكم الأم على ما عرف.الاختيار لتعليل المختار (۱ /۱۸۷)

۴-مستحب ده، چې څوک کوم مال ذبح کوي باید چاړه یا د ذبحې وسیله ښه تیزه کړي . په حدیث شریف کې راځي: عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ ». صحيح مسلم (٦ /٧٢)

ژباړه: د شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې دوه خصلتونه دي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یا د کړي دي. نبي علیه السـلام وفرمایل: بیشـکه الله تعالی واجب کړی ده نیکي کول په هر څه کې ، کله چې تاسـې وژل کوئ(لکه قصاص یا د بل شي وژل) او کله چې تاسې ذبح کول کوئ ؛ نو په نیکۍ سره ذبح وکړئ او خامخا تیزه دې کړي یو له ستاسې څخه چاړه خپله او باید راحت ورکړي مذبوحې خپلې ته.

۵-چاړه باید د حیوان په مخکې تیزه نه کړای شي او چاړه باید دحیوان د څملولو څخه مخکې تیزه کړل شي او د حیوان د څملولو څخه وروسته چاړه تیره کول مکروه دي او په حدیث کې ورڅخه منع راغلی ده. الاختيار لتعليل المختار (٥ /١٣)

٦-یو څاروی د بل څاروي په مخکې باید ذبح کول مکروه دي.

۷-د ذبحې پر وخت حیوان له پښې څخه راښکل مکروه دي ؛ باید حیوان په مهربانۍ سره د ذبحې ځای ته راوستل شي او په مهربانۍ سره څملول شي. الجوهرة النيرة (٥ /٢٦٤)

۸-په ذبح کې د مرۍ هډوکې ته چاړه رسول یا د څاروي څخه د ذبح پر وخت سره غوڅول مکروه دي او د ذبحې پر وخت د څاروی او حیوان څټ ماتول مخکې له دې چې یخ شي مکروه دي، ځکه په دې کارونو سره څاروی بې فائدې تعذیبیږي. البحر (٨ /١٩٤)

۹-د څاروي څخه څرمن ویستل مخکې له دې چې هغه یخ شي مکروه دي.

۱۰-دحیوان د ذبحې پر وخت د حیوان مخ قبلې ته اړول مستحب دي او ذبح کوونکی بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وایې.

**په قرباني کې مکروهات:**

۱- دقرباني دڅرمن خرڅول مکروه دي،که چیرې دقرباني څرمن یي خرڅه کړه په کارده چې قیمت یي صدقه کړي.

۲-قصاب ته په اجوره (مزوری)کې دقرباني غوښه یاڅرمن ورکول هم مکروه دي؛مگر که چیرې غوښه یي دصدقې له مخې ورکړه داجواز لري.

۳- دذبح کولو څخه مخکې دقرباني دڅاروي څخه دویښتانو اخیستل او دڅاروي دشیدو څخه گټه پورته کول مکروه دي. په کارده چې شیدې یي او یا اخیستل شوی وړی صدقه کړي.

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولکم ولسائر المسلمین**

**و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**